چا چې د هدايت لورې ته بلنه ورکړه نو دومره ثواب يې کيږي لکه څومره چې د هدايت د پيروانو کيږي پداسې حال کې چې د هغوی له اجر او ثوابونو څخه هيڅ نه کميږي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «چا چې د هدايت لورې ته بلنه ورکړه نو دومره ثواب يې کيږي لکه څومره چې د هدايت د پيروانو کيږي پداسې حال کې چې د هغوی له اجر او ثوابونو څخه هيڅ نه کميږي، او چا چې ګمراهۍ ته بلنه ورکړه، نو دومره ګناه يې کيږي څومره چې د ګمراهۍ د پيروانو کيږي، پداسې حال کې چې د هغوی له ګناهونو څخه هيڅ نه کميږي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګندوي چې چا د خلکو داسې يوې لارې ته لارښوونه وکړه چې په هغې کې په وينا او عمل کې خير وي، نو د هغه لپاره به د هغو کسانو په څير اجر وي چې د حقې لارې پيروي يې کړې ده، پرته له دې چې د پيروانو په اجر کې يې څه کمی راشي. او چا چې خلکو ته د غلطې او بدې لارې لارښوونه وکړه چې په هغې کې ګناه، خطا او يا داسې يو کار وي چې روا نه وي، هغه که وينا وي يا عمل، نو هغه به د پيروۍ کوونکو سره مساوي بار په غاړه اخلي پرته له دې چې د دوی په ګناهونو کې څه کمی راشي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3373